## مطبوعاتي اعلاميه

## د يوه دعوتگر د مړينې خبر

**﴿ولَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾**

[ البقره: ۱۵۵ ]

***ژباړه:*** *موږ هرو مرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عايداتو په خساره کې په اخته کولو په تاسې ازمېښت کوو، او (اې رسول الله صلی الله عليه وسلم!) صبر کوونکو ته زيرى ورکړه.*

موږ د الله سبحانه وتعالی رضا په سر سترگو منلې ده. حزب التحرير- ولايه سوډان د مرحوم شيخ د غم په ټغر ناست دی:

**محمد السير عمر**، چې اسلامي ژوند ته د بيا راگرځېدلو لپاره يې خپله ځواني د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسيس لپاره په دعوت کې تېره کړه او ټول ژوند يې د لا اله الا الله محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د بيرغ لوړولو لپاره په صبر او استقامت سره کار وکړ. دغه راز زيان يې قبول کړ، د ظالمانو په زندانونو او بنديخانو کې د دې لپاره واچول شو، چې پرته له کومې ستړيا تر هغه وخت پورې د حق ملاتړ وکړي، تر څو چې يې په ناخاپي توگه د ۱۴۴۱ هـ.ق د شوال په ۲۵مه چې له ۲۰۲۰م د جون له ١٦مې سره سمون خوري، له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې.

موږ الله سبحانه و تعالی ته د دعا لاسونه لپه کوو، چې هغه ته مغفرت وکړي او د پيغمبرانو، مومنانو، شهيدانو او صالحينو له ډلې يې وگرځوي. همدارنگه کورنۍ او ملگرو ته يې صبر او زغم غواړو. سړي له دنيا درومي، خو د بېلا بېلو مقامونو او غوره اعمالو خبرې يې پاتې کېږي.

**[إنَّا لله وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ]**

**ابراهيم عثمان ابو خليل د حزب التحرير- ولايه سوډان رسمي وياند**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ٢٦مه**

۲۰۲۰م د جون ۱۷مه

د صدور گڼه: ۵۵/ ۱۴۴۱